شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**د حدیث شریف ژباړه**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هر څوک، چې قرآنکریم په سختۍ سره تلاوت کوي (اسانه ئې نه سي تلاوت کولای) له نورو تلاوت کوونکو څخه به دوه برابره زیات ثواب تر لاسه کوي! (صحیح مسلم ١٧٦٣)

**ترجمه حدیث شریف**

رسول الله صلی علیه وسلم فرموده است: هر کس که قرآن کریم را به سختی تلاوت میکند( نمیتواند به آسانی تلاوت اش کند)، نسبت به سایر تلاوت کنندگان ثواب بیشتر حاصل میکند. {صحیح مسلم ١٧٦٣)

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


شنبه| د ربیع الاول ١١-١٤٤٦ال س/ د وږي ٢٤-١٤٠٣ال ل/ د سیپتمبر ١٤-٢٠٢٤ز/خلورم کال / ١١٥ گڼه/ ٤ مخیزه




## سر مقاله

### د گمرکونو پر پراختیا تر اوسه لسگونه میلیونه افغانۍ لگول سوې

په وروستیو دریو کلونو کې د هیواد گمرکونه تر بل هر وخت زیات د مالیې وزارت په رغنیز او پراختیایي پلان کې دي، چې تجهیز، پرمختللي او معیاري سي او وکولای سي په اوسنیو شرایطو کې د سیمي او نړۍ له گمرکونو سره سیالي وکړي. نړیوال کېدو او د سیالۍ ډگر ته رامنځته کېدلو له پاره طبیعي ده، چې ځیني معیارونو او سمونو ته اړتیا سته او دغه دوه هدفونه مالیې وزارت په جدي توگه په پام کې نیولي دي. په (١۴٠٢) مالي کال کې د هیواد په گمرکونو کې سوداگرو ته د اسانتیا رامنځته کولو او په هیواد کې د سوداگرۍ د لا پراختیا په موخه څه باندي (٦٠٠) میلیونه افغانۍ بودیجه د (٦١) پراختیایي پروژو لپاره په پام کې ونیول سوه، چې په مټ ئې د (٣۴) پروژو چاري بشپړي سوي او د (٢٧) پروژو چاري لا اوس هم رواني دي. همداشان په روان کال هم (٩٠٠) میلیونه افغانۍ د بېلابېلو لویو او وړو پروژو له پاره ځانگړي سوي، چې د ځینو پروژو چاري پیل سوي او د پاتي پروژو چاري به هم پیل سي. په ذکر سویو پروژو کې میدانونه، هنگرونه، استنادي دېوالونه، اداري ودانۍ، اړین گمرکي تجهیزات، لیلیې، پرمختللي ډیجیټلي او انلوگ تلي، په نړیوال ستېنډرډ برابر سکېنرونه او داسي نوري پروژې شاملي دي. د یادو پروژو په پلي کېدو سره سوداگرو ته گڼي اسانتیاوي برابري سوي دي او موږ ورځ تر بلي په هیواد کې د سوداگرۍ د پراخېدو شاهدان یو. همداشان د پراختیایي پروژو په پلي کېدو او اړینو تجهیزاتو په برابرولو سره تر ډېره د ممنوعه او قاچاقي توکو د وړلو را وړلو او تر ځنگ ئې د ملي عوایدو له ضایع کېدو څخه هم مخنیوی سوی دئ. له نېکمرغه د افغانستان اسلامي امارت له بیا حاکمېدو سره سم د مالیې وزارت رهبرۍ د گمرکونو د بنسټونو جوړولو او د اړینو تجهیزاتو برابرولو ته جدي پاملرنه وکړه، چې اوس مهال د هیواد په ټولو گمرکونو کې پراختیایي پروژې پلي سوي او یا هم د پلي کېدو په حال کې دي او په پایله کې ئې د هیواد په عوایدو هم مثبت اغېز کړی او د سوداگرۍ او ټرانزیټ ودي ته نوره لاره هم هواره سوې ده.

در نښت

اداره

# د روان مالي کال په اسد میاشت کي د گمرکونو چارو (١٨,٥) سلنه پرمختگ کړی دئ




- د ترسره سویو چارو د تخنیکي ارزوني ناسته د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ پر لیکه او حضوري بڼه جوړه سوه.
- د زمري/ اسد د میاشتي په تړاو د هر اړخیز ریپورټ تر وړاندي کېدو او هم تر ارزوني وروسته د پروسږکال د همدې مودې په پرتله د گمرکونو چاري ٪(١٨,٥) مثبتي وښودل سوې.
- د چارو د لا پرمختگ په موخه د ولایتي گمرکونو د مسؤلینو ستونزي او وړاندیزونه واورېدل سول او د حل په اړه ئې ډاډ ور کول سو.

د روان (١۴٠٣) مالي کال د زمري (اسد) په میاشت کي په گمرکونو کي د ترسره سویو چارو د تخنیکي ارزوني ناسته، د مالیې وزارت د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ پر لیکه او حضوري بڼه جوړه سوه. په دغه ناسته کي د روان کال په اسد میاشت کي په گمرکونو کي د تر سره سویو فعالیتونو ټولیز راپور وړاندي سو؛ په یاده موده کي د عوایدو د راټولېدو، د هیواد په گمرکونو کي د ترسره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت او د سوداگریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندي سول، چې له مخي ئې د پروسږکال د همدې مودې په پرتله، د گمرکونو چاري (١٨.٥) سلنه مثبتي وښودل سوې. د وړاندي سوي راپور په تړاو هر اړخیز تخنیکي بحثونه وسول او د چارو د لا پرمختگ په موخه د ولایتي گمرکونو د مسؤلینو ستونزي او وړاندیزونه واورېدل سول، چې د گمرکونو د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو او ور سره اړیني سپارښتني هم شریکي سوې.

# تېره اوونۍ په بېلابېلو ولایتونو کي گڼ شمېر قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نیمروز، فراه، هرات او ننگرهار ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي گڼ شمېر قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کي (٢۴٩٧) کیلو گرامه انساني طبي درمل، (٣١٥٣) کیلو گرامه رُب، (١٦٣٢) کیلو گرامه چاکلېټ، (١١٠٢) لېټره تینر، (١٢٥٠) کیلو گرامه مالگه، (٧٢٨) کیلو گرامه مکروني، (۴٣٦) کیلو گرامه د اوړو (خمیر مایه)، (٦٦٩) کیلو گرامه غوړي، (٣٨٥) کیلو گرامه زراعتي درمل، (۴٢٠) کیلو گرامه خامه پنیر، (٥٠٠) کیلو گرامه ساچمه (په نشه یي توکو کي کارول کېږي)، (٦٧٥) کیلو گرامه د چرگانو دانه، (١٨٠) کیلو گرامه وچې شیدې، (١٢٠) کیلو گرامه لوبیا او (١٠٠) کارټنه بوټونه او څپلۍ شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو لپاره اړونده گمرکونو ته سپارل سوي دي.







د گمرک کارکوونکو ته له ترخیص (PCA) وروسته د گمرکي توکو د پلټني روزنیز پروگرام جوړ سو


م ٢




د افغانستان د مسلکي محاسبینو اداري د تحصیلي بورسونو خبرتیا!


م ٢




د کندهار ولایت محصولي گمرک ته یوه عراده د اور وژني موټر ولېږدول سو


م ٢





هیئت وزارت امر بالمعرف، نهی عن المنکر و سمع شکایات با رؤسا و آمرین وزارت مالیه دیدار کرد


م ٢




مروری بر بحران اقتصادی جهانی


م ٣


د لاجوردو دهلېز په جوړولو کي د اذربایجان او افغانستان رول - د لرغونو سوداگریزو اړیکو بیارغونه


م ٤

# د گمرک کارکوونکو ته له ترخیص (PCA) وروسته د گمرکي توکو د پلټني روزنیز پروگرام جوړ سو

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمریت د گمرکونو (۲۳) تنو کارکوونکو ته له ترخیص (PCA) وروسته د گمرکي توکو د پلټنې یو میاشتنی روزنیز پروگرام جوړ کړ. په هغه غونډه کي چي په همدې مناسبت جوړه سوې وه، د گمرکونو لوی رئیس مفتي عبدالمتین سعید، د کورنۍ پلټني لوی رئیس انجینر عبدالطیف خالد، د اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او د گمرکونو یو شمېر کارکوونکو گډون کړی وو. لومړی د دغه پروگرام په پرانیستې ویناکي د گمرکونو لوی رئیس وویل، چي د افغانستان اسلامي امارت کارکوونکي دوه مهم مسوولیتونه لري، د نظام د اصولو پلي کول او د خلکو رضایت ترلاسه کول، چي دې ټکو ته باید په جدي توگه پام وکړي. تاسو د دې سپېڅلي نظام د کارکوونکو په توگه په اخلاص او صداقت سره د پوهې په ترلاسه کولو او د خپلو مهارتونو په لوړولو سره هڅه وکړئ، چي اصول له کمۍ او کاستۍ پرته پلي او د خدای او مظلوم ملت رضایت په حقیقت کي تر ټولو غوره سعادت باید ترلاسه کړو. ورپسې د کورنۍ پلټني لوی رئیس د خپلو خبرو په ترځ کي د کورنۍ پلټني د دندو او مسوولیتونو په اړه معلومات ورکړل او زیاته ئې کړه؛ څرنگه چي تاسي له سوداگرو او کسبگرو سره سروکار لرئ او ټول سوداگر او کسبگر صادق نه دي، د دې نظام د خدمتگارانو په توگه باید په کافي اندازه وړتیا او پوهه ولرئ؛ تر څو د هغوی له ناوړه گټه اخیستني او درغلۍ څخه مخنیوی وکړئ. د پروگرام په پای کي د کابل نړیوال هوایي ډگر د گمرک (۲۳) تنو کارکوونکو ته، چي د گمرکي چارو په برخه کي ئې یو میاشتنی روزنیز پروگرام او د هغه ازموینه په بریالیتوب پای ته رسولې وه، تصدیق پاڼې ورکړل سوې او ناسته د دعایې په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د کندهار ولایت محصولي گمرک ته یوه عراده د اور وژني موټر ولېږل سو



د کندهار ولایت د اور وژني مدیریت په همکارۍ د یاد ولایت محصولي گمرک ته یوه عراده د اور وژني موټر ولېږل سو، چي د اړتیا په وخت کي به ترې گټه اخیستل کېږي. د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست له خپلو ټولو امکاناتو څخه په گټې اخیستني سره د هیواد په گمرکونو کي د سوداگرو او نورو هیوادوالو د توکو او وسایطو خوندي ساتلو لپاره اړین اقدامات ترسره کړي او په دې برخه کي به لا هم ډېري اسانتیاوي برابري کړي.

# د افغانستان د مسلکي محاسبینو اداري د تحصیلي بورسونو خبرتیا!



د افغانستان د مسلکي محاسبینو اداره د مالیې وزارت د مالي معینیت تر چتر لاندي د (ACCA) مسلکي سکالرشیپونه وړاندي کوي، چي شرایط او د نوم لیکني بشپړ معلومات ئې په لاندي ډول دي:

**لومړی گام - ACCA ته نوم لیکنه:**

هغه زده‌کړیالان/ محصلین، چي غواړي د مسلکي محاسبینو اداري بورسونو لپاره نوم لیکنه وکړي، لومړی باید ځان له ACCA سره راجیستر کړي، چي د دغه پړاو لپاره کولای سي، په مستقیم ډول یا هم تصدیق سوو تحصیلي بنسټونو (ALP) ته په ورتگ سره ځانونه ثبت کړي.

۱. په مستقیم ډول نوملیکنه: محصلین کولای سي، چي ACCA ویب پاڼي ته مراجعه او نوملیکنه وکړي www. accaglobal.com

۲. د تصدیق سوو تحصیلي بنسټونو له لاري نوملیکنه: هغه محصلین، چي غواړي د تصدیق سوو تحصیلي بنسټونو له لاري نوملیکنه وکړي، لومړی باید د دې اداري ویب پاڼي ته مراجعه او د تصدیق سوو بنسټونو معلومات ترلاسه کړي او وروسته بیا د نوملیکني په موخه یاد بنسټ ته په حضوري ډول مراجعه وکړي.

**دوهم گام - د تحصیلي بورسونو شرایط:**

د دې لپاره، چي د ACCA او FIA تحصیلي بورسونو ته په شرایطو برابر اوسئ؛ نو باید:

۱. د افغانستان تبع او د افغانستان اوسېدونکی اوسئ.

۲. له ACCA سره راجیستر او (د ACCA د راجیسترېشن د ۷ رقمیز عدد درلودونکی باید اوسئ.)

۳. د ACCA له ریکارډونو سره سم فعال وضعیت باید ولرئ.

**دریم گام – بورسیه کي د نوملیکني لپاره اړین اسناد:**

محصلین باید د تحصیلي بورسونو پالیسي او د بورسیو د قرارداد فورم د اداري له ویب پاڼي www. cpaafghanistan.af څخه ډاونلوډ او په دقیق ډول ډک کړي او وروسته ئې په حضوري ډول په مالیې وزارت کي د مسلکي محاسبینو اداري دفتر ته ور وسپاري. د یادي فورمې له سپارلو وروسته، محصل باید پاتي لاندي (۱ او ۲ شمېره) اسناد cpa.scholarship@ mof.gov.af برېښنالیک ته واستوي. د محصل بشپړ نوم او د ACCA د نوملیکني ۷ - رقمیزه شمېره باید د برېښنالیک د موضوع په برخه کي درج سي.

۱. د برېښنایي تذکرې د (شا او مخ) سکېن او یا هم د پاسپورټ کاپي.

۲. د هغي لاسلیک سوي قراردادي فورمې سکېن، چي (په حضوري ډول د مسلکي محاسبینو اداري په دفتر کي لاسلیک سوی وي.)

**څلورم گام - په بریالیتوب سره د ازمویني له ترسره کولو وروسته د لگښتونو د بیا ورکړي لپاره د اسنادو سپارل:**

محصلین باید لاندي اسناد په ازموینه کي له گډون او د هغې د بریالۍ له ترسره کولو وروسته cpa.scholarship@ mof.gov.af برېښنالیک ته واستوي. د محصل بشپړ نوم او د ACCA د نوملیکني ۷ ـ رقمیزه شمېره درج سي.

۱. د ACCA د نمرو ټرانسکریپټ، چي د محصل له حساب څخه په مستقیم ډول را ډاونلوډېږي.

۲. د ازمویني د پایلو سکېن (یوازي له FA1 څخه تر F4 محصلینو لپاره.)

۳. د ازمویني د پایلو په اړه د ACCA د برېښنالیک مستقیمه لېږنه، (یوازي د P7-F5 محصلینو لپاره.)

٤. د روزنیز کورسونو لاسلیک او ټاپه سوی رسید ( یوازي د هغو محصلینو لپاره، چي د افغانستان په روزنیزو بنسټونو کي ئې زده کړي کړې وي.)

۵. د ازمویني د مرکزونو د فیس لاسلیک او ټاپه سوی رسید (په دې موخه، چي معلومه سي، محصلینو د افغانستان په تصدیق سوو بنسټونو کي ازموینه ترسره کړې ده).

**پینځم گام – د ازمویني او رونیزو ټولگیو د لگښتونو بیا ورکړه:**

د مسلکي محاسبینو اداره د ACCA تحصیلي بورسونو لپاره لاندي ټاکلي لگښتونه ادا کوي:

۱. د ACCA د نوملیکني فیس، یوازي د هغو محصلینو لپاره، چي د (۲۰۲۴)ز کال د جنورۍ میاشتي له لومړۍ نېټې څخه ئې نوملیکنه کړې وي.

۲. د قرارداد د پیل له نېټې څخه د ټولو (FIA, F series and P Series) مضامینو د ازمویني فیس، که چیري په بریالیتوب سره تېر سوی وي.

۳. د ACCA د اخلاقي او مسلکي مهارتونو د ماډیولونو فیس.

٤. د روزنیزو ټولگیو فیس، یوازې د هغو محصلینو لپاره، چي د افغانستان په تصدیق سوو روزنیزو بنسټونو کي ئې زده کړي کړې وي.

۵. د ازمویني فیس، یوازي د هغو محصلینو لپاره، چي د افغانستان په تحصیلي تصدیق سوو بنسټونو په مراکزو کي ئې ازموینه ترسره کړې وي.

یادونه:- د روزنیزو ټولگیو فیس یوازي هغه وخت ادا کېږي، چي محصل د افغانستان په تصدیق سوو تحصیلي بنسټونو کي زده کړي کړې وي. او د ازمویني فیس هم هغه وخت ورکول کېږي، چي محصل په ذکر سوي بنسټ کي ازموینه ترسره کړې وي.

- محصلین باید د افغانستان په یوه داخلي بانک کي د خپلو تحصیلي لگښتونو د ادا کولو لپاره حساب ولري.

د ACCA لخوا د پایلو تر رسمي اعلان وروسته، د مسلکي محاسبینو اداره د محصلینو لگښتونه په ربعوار ډول ادا کوي، په دې مانا، چي یاده اداره بریالیو محصلینو ته د کال په اوږدو کي څلور ځله اداینه کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره کولی سئ د مسلکي محاسبینو اداري ویب پاڼي ته مراجعه او تحصیلي بورسونو پالیسي مطالعه کړئ www.cpaafghanistan.af

اې سي سي اې ACCA (Association of Chartered Certified Accountants) یوه نړیواله مسلکي محاسبوي اداره ده، چي په (۱۹۰٤) میلادي کال کي رامنځته سوې ده. دغه اداره په نړیواله کچه د مالیاتو، محاسبې، او مالي چارو په برخه کي افراد روزي او هغوي ته د مسلکي زده کړو فرصتونه برابروي. دا اداره په «۱۸۰» هیوادونو کي فعالیت لري او سندونه ئې په نړیواله کچه پېژندل سوي او له لوی اعتبار څخه برخمن دي.

SHTAMANI
شتمني
اوونیزه

## هیئت وزارت امر بالمعرف، نهی عن المنکر و سمع شکایات با رؤسا و آمرین وزارت مالیه دیدار کرد



هیئت وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات به ریاست الحاج مولوی فضل ربی فضلی، رئیس نظارت و ارزیابی این وزارت با مسئولین و کارمندان وزارت مالیه در سالون کنفرانس های خیبر وزارت دیدار نمود. هیئت متذکره که به منظور پیگیری از اجرای فرامین زعیم امارت اسلامی افغانستان به وزارت مالیه آمده بود فرمان شش مادهٔ قانون امر بالمعروف و نهی عن المنکر را مفصلاً توضیح داده گفت؛ که کارمندان تمام ادارات باید صورت و سیرت خود را مطابق به سنت رسول گرامی ﷺ اسلام آراسته سازند. هر یک از آنان مکلف هستند که به نماز جماعت و دروس عقیدتی حضور داشته باشند. هیئت وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات تطبیق فرامین رهبری امارت اسلامی افغانستان در وزارت مالیه را مثبت ارزیابی نموده و خواهان همکاری هر چی بیشتر در این راستا شد.

## د کندهار گمرک کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز پروگرام پای ته ورسېد




د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د تدریسي پلان له مخي د کندهار گمرک و (۱۹۱) تنو کارکوونکو ته یو میاشتنی جوړ سوی روزنیز پروگرام پای ته ورسېدی. په دې روزنیز پروگرام کي د گمرکونو ملي اکاډمۍ د مسلکي ښوونکو له لوري یادو کارکوونکو ته د سوداگریزو توکو د تشرېح، گمرکي تعرفې، بیې ایښودني، د دروازو مدیریت او د اسیکوډا سیستم په برخو کي عملي او نظري زده‌کړي ورکړل سوې. د یادوني وړ ده، چي د چارو د لا ښه والي او په معیاري ډول د گمرکي طی مراحلو ترسره کولو په موخه د ولایتي گمرکونو د کارکوونکو وړتیا لوړول د گمرکونو لوی ریاست په لومړیتوبونو کي ده، چي له دې وړاندي هم زیات شمېر کارکوونکو ته په بېلابېلو برخو کي روزنه ورکړل سوې ده او دا لړۍ به په راتلونکي کي هم دوام ولري.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# مروری بر بحران اقتصادی جهانی

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

بحران مالی جهانی سال های (۲۰۰۸ و ۲۰۰۹ م) در واقع ریشه در سالهای پایانی قرن بیستم دارد، زمانی که قیمت مسکن در ایالات متحده پس از تشدید بی وقفه و چند ساله، شروع به کاهش کرد. در اواسط سال (۲۰۰۸م) افزایش تقریباً قابل توجهی در معوقات وام مسکن وجود داشت. این افزایش معوقات با کاهش نگران کننده ارزش اوراق بهادار با پشتوانه وام مسکن همراه شد و این کاهش نگران‌کننده ارزش به همان اندازه به معنای کاهش نگران کننده سرمایه بزرگ‌ترین بانک‌های امریکا و وام دهندگان تریلیون دالری وام مسکن تحت حمایت دولت حدود ۵ تریلیون دالر وام مسکن دارند. بازار ۱۰ تریلیون دالری وام مسکن دچار آشفتگی شدید شد. خارج از ایالات متحده، بانک چین و BNP Paribas فرانسه اولین مؤسسات بین المللی بودند که زیان قابل توجهی را از اوراق بهادار اعلام کردند. در زیر ورشکستگی وام‌های فرعی ایالات‌متحده، فاجعه ارزان‌قیمت اروپا بود. ایرلند، پرتغال، اسپانیا و ایتالیا بدترین ضربه را دیدند. بانک فدرال رزرو ایالات متحده، بانک مرکزی اروپا، بانک جاپان، بانک رزرو آسترالیا و بانک کانادا همگی شروع به تزریق حجم عظیمی از نقدینگی به سیستم بانکی کردند. فرانسه، آلمان و بریتانیا بیش از (۱٦۳) میلیارد یورو (۲۲۲ میلیارد دالر) نقدینگی جدید بانکی و ۷۰۰ میلیارد یورو (نزدیک به یک تریلیون دالر) ضمانت وام بین بانکی را اعلام کردند.



دو دهه قبل از ایجاد بحران مالی، کنگره ایالات متحده، قانونی حمایتی برای افرادی با درامند کم که نیازمند به مسکن بودند، تصویب کرد. بخش‌هایی از قانون Glass Steagall که در سال ۱۹۳۳ تصویب شده بود لغو شد؛ این قانون مبنی بر الزام جدایی بین بانک‌های تجارتی که سپرده می‌پذیرفتند و وام می‌دادند و بانک‌های سرمایه‌گذاری، که تعهد پذیره نویسی و توزیع سهام را انجام می‌دادند، بود. قوانین جدیدی در دستور کار قرار گرفت؛ مثلا" به موسسات مالی اجازه داده میشد که عملیات پرخطر را انجام دهند. این خطر بالا به دلیل اعطای وام به قشر ضعیف جامعه بود که علاوه بر درامد از اطلاعات مالی کمی برخوردار بودند. در نتیجه در باز پرداخت‌ها دچار مشکل می‌شدند و همین موضوع باعث غافلگیرشدن دولت ایالات متحده شد. بحران مالی ایالات متحده اثرات زیادی بر جامعه گذاشت و تنها محدود به اثرات اقتصادی نبود. از آنجایی که اقتصاد هر کشور بخش جداناشدنی از زندگی افراد جامعه است می‌تواند تاثیرات مخربی بر شرایط اجتماعی مردم بگذارد. یکی از آن عوامل افزایش بیکاری بود که باعث افزایش نارضایتی مردم شد. حتی آمارها نشان می‌داد که خودکشی در این دوران به طور محسوسی افزایش یافته بود. بحران مالی ایالات متحده به کشورهای دیگر هم انتقال یافته بود. در سال‌های ۲۰۰۷ تا ۲۰۰۹ بانک‌های بزرگ در کشورهای یونان، ایسلند و به‌طور کلی اروپا، به همراه ایالات متحده، بسیاری از دارایی‌های خود را از دست دادند؛ به طوریکه صندوق بین‌المللی تخمین زد که این بانک‌ها در این حدود ۲ سال بیش‌از ۱ تریلیون دالر از دارایی‌های سمی خود (toxic assets) را از دست دادند. (محمدیان,۱٤۰۳)

خط زمانی بحران مالی سال ۲۰۰۸ در سال ۲۰۰٦ پس از چندین سال افزایش قیمت مسکن، روند قیمتی به اوج خود رسید. از طرف دیگر معوقات اقساط وام مسکن هم افزایش یافت که نتیجه این اتفاقات باعث ایجاد حباب قیمتی شد، حتی یک بر سوم حصه وام‌های رهنی در سال ۲۰۰٦ بدون سند بوده اند که ٪ ۱۷ از خرید خانه‌های آن سال را شامل می‌شد. در طی این اتفاقات بسیاری از سرمایه‌گذاران هشدارهایی درباره وضعیت مسکن داده بودند که مشهورترین آن‌ها جی پی مورگان بانک سرمایه‌گذاری معروف ایالات متحده بود. اما با این همه این دوران مانند آرامش قبل از طوفان بود. قیمت سهام در ایالات متحده و همچنین چین سقوطی را تجربه کرد که از سال ۲۰۰۳ بی پیشینه بود. علت آن ریزش وضعیت نامطلوب مسکن و به طور کلی رکود در بازار بود. با توجه به روند رو به افزایش عدم بازپرداخت در وام‌های گران‌قیمت، (شرکت فدرال وام‌های مسکن) اعلام کرد که از اعطای بسیاری از وام‌ها جلوگیری خواهد کرد.

ادامه ... در شماره بعدی


# اعلانات داوطلبی

### داوطلبي خبرتیا

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست د کابل ښاروالی (٦) مې ناحیې اړوند د فرمانونو او حکمونو د څارنې او تعقیب لوی ریاست په حویلۍ کې یو باب کانتین، چې د (۱۹۰.۵) متره مربع مساحت او د یو باب د ډوډۍ خوړلو صالون، یو باب پخلنځی، یو باب د خرڅلاو خونه او یو باب د عکاسۍ او فوټوکاپۍ خوني درلودونکي دئ د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندي کوي، چې یاد کانتین د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکول.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر):
۳٤,٤۷۷٤۹۹۳۱ -٦۹,۱۱۸۰٦۹٤۱

هغه شرکتونه او یا رسمي استازي چې د قانون په چوکاټ کې مالي توان ولري او هم د کابل ښار اړوند برخو کې یوه فعاله نمایندګي ولري کولای سي، چې خپل غوښتنلیکونه د (۱٤۰۳/ وږی/۱۹ مې نیټې څخه د ۱٤۰۳/تلې/ ۸) مې نیټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته و سپاري او شرطپانه تر لاسه کړي.

د آفرګشایۍ ټاکلي نیټه: د (مه ۱٤۰۳ کال د میزان ۹) د سهار (۹) بجې.

ځای: د سینما پامیر (۱٤) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست – د مرکزي تړونونو د ارزونې لوی مدیریت.

د اړیکو شمېرې: (۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه (۳) جایداد ذیل را طور جداگانه به شکل آفر سر بسته برای مدت(۳ ) سال به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱. موازی(۲۳۰۰۰) مترمربع زمین شامل هنگر، دفتر و تشناب واقع سرک کابل- جلال آباد مربوط ناحیه ۹ شاروالی کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۱۰۵۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)۲۸۳۳۱-٦۹,
۳٤,۵٤۵٦

۲. یک باب غرفه نمبر(۲۸) به مساحت(٤,۲) مترمربع واقع منزل اول تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۷۹۷۲) افغانی

۳. غرفه نمبر ٦ و۷ به مساحت(۸,۸۱) مترمربع واقع منزل اول تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۲۰۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ۱۷۲۱۹-٦۹,
۳٤,۵۱۳٤۲

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند می توانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۲۰ سنبله ۱٤۰۳ الی ۲۷ سنبله ۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر۱٤منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرارداد های مرکز.

شماره های تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷،۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)

مجلس داوطلبی بتاریخ ۲۸سنبله۱٤۰۳ به ساعت(۹:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### مزايدې خبرتیا

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ښاروالی لومړۍ ناحیې اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ (۳) بابه دوکانونه، چې په جلا جلا ډول د مزایدې له لارې اعلان ته وړاندي کېږي چې د یوه کال لپاره په کرایه ورکړي.

۱- د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱٦۳) نمبر دوکان چې (٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۲۲۵۰۰) افغانۍ ده.

۲- د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱٦٤) نمبر دوکان چې (٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۲۸۰۰۰) افغانۍ ده.

۳- د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱۵۸) نمبر دوکان چې (۸.۳۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦
۳٤,۵۱۷۱

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورتني دوکانونه له ذکر سوي قیمت څخه په لوړ قیمت په کرایه ونیسي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د ( وږی /۲۰ /۱٤۰۳) څخه وروسته تر ( وږی /۱٤۰۳/۲۷) نیټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه ترلاسه کړي.

د آفرګشایۍ ټاکلي نېټه: د ۱٤۰۳ کال د وږی ۲۸ مه نېټه د سهار (۹) بجې.

ځای: د سینما پامیر (۱٤) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست – د مرکزي تړونونو د ارزونې لوی مدیریت.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰

### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء (تدارک اجناس تکنالوژی و تجهیزات دفتری گمرک های فراه، نیمروز و هرات) دارای نمبر تشخیصیه ۸۳۵-G/۱٤۰۳/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۰۱/ میزان/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱۱/میزان/۱٤۰۳ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ۷۰۰,۰۰۰ (هفت صد هزار ) افغانی میباشد.

آدرس: ریاست تدارکات وزارت مالیه و سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژهء (اعمار مجدد تانک تیل جنراتورهای وزارت) دارای نمبر تشخیصیه ۸۵٦-W/۱٤۰۳/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجــراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۰۱/ میزان/۱٤۰۳ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱۱/ میزان/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ۲۰,۰۰۰ (بیست هزار ) افغانی میباشد.

آدرس: ریاست تدارکات وزارت مالیه و سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

# شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)







## د لاجوردو دهلیز په جوړولو کې د اذربایجان او افغانستان رول - د لرغونو سوداګریزو اړیکو بیارغونه




د ازرنیوز ـ AZERNEWS په نوم د یوې اذربایجانۍ رسنۍ له خوا د اکبر نورزو په نوم لیکوال تحلیل د لاجوردو سوداګریزې لارې په اړه خپور سوی دئ، چې په دې برخه کې لومړی د اذربایجان رول ذکر سوی دئ او ور پسې تر یوه خپلواک سرلیک لاندې د افغانستان برخه واضح سوې ده.

د اذربایجان د ستړېتیجیک/ ستراتیژیک موقعیت را وروسته په تحلیلي لیکنه کې د چین، منځنۍ اسیا، ترکیې او اروپا تر منځ د مهمو سوداګریزو لارو؛ لکه: د ورېښمو، د اروپا ـ قفقاز ـ اسیا، د چین د یوې لارې او یو کمر بند، د ټرانس ـ کسپین نړیوال ټرانسپورټ او د لاجوردو د تاریخي سوداګریزو مسیرونو پر ارزښت یوه برخه راګرځي.

د دې شنني/ تحلیل په ترسیم سوې نقشه کې د افغانستان د دې سوداګریز مسیر پیل د «آقینې» او «تورغونډۍ» له بندرونو څخه کېږي، چې د ترکمنستان، اذربایجان، ګرجستان او ترکیې تر عبور وروسته د اروپا ختیځو لمنو ته ځي.

تر دې سرلیک لاندې «افغانستان د نویو سوداګریزو لارو په تلاښ کې» کاږي، چې دا ملک هڅه کوي، چې ازادو اوبو ته د رسېدو له پاره د سوداګرۍ او ټرانزیټي ستونزو د حل په نیت نوې لارې پیدا کړي.

وریسې زیاتوي، چې افغانستان له پاکستان سره د سوداګریزو او ټرانزیټي تړونونو باوجود، له ایران سره د چابهار بندر تر ځنډو پورې او هم د ایران بندر عباس لیریوالی، د کار ځنډ او زیات مصرف ته په کتو اروپا ته د خپلو تولیداتو د لېږد په لټه کې دئ؛ نو افغانستان اوس د دې لپاره په بدیلو لارو پسې ګوري.

په همدې موخه د لاجوردو لارې د ټرانسپورټ او ټرانزیټ تړون د هغه وخت د افغانستان د بهرنیو چارو او د اقتصادي همکاریو د وزیر وحیدالله ویسي له خوا پیل سو، نو د دې ډول سوداګریز ارزښت په خاطر افغانستان د لاجوردو سوداګریز مسیر ته مخه کړې ده.

تحلیل د لاجوردو سوداګریز دهلیز موخه په دې الفاظو سره لیکلې ده: «د دغه هوکړه لیک موخه د افغانستان، ترکمنستان، اذربایجان، ګرجستان او ترکیې هیوادونو تر منځ د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو او اتصال لوړول او هم د اروپا او اسیا ترمنځ د اقتصادي او فرهنګي اړیکو پراخول دي.»

> "د دغه هوکړه لیک موخه د افغانستان، ترکمنستان، اذربایجان، ګرجستان او ترکیې هیوادونو تر منځ د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو او اتصال لوړول او هم د اروپا او اسیا ترمنځ د اقتصادي او فرهنګي اړیکو پراخول دي. د لاجوردو دهلیز د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو سره نړیوالو ته د لاسرسي لپاره تر ټولو غوره لاره ده. هیڅ دلیل نسته، چې محموله دې له افغانستان څخه د اذربایجان له لارې ولاړه نه سي."

په لاجورد مسیر کې د افغانستان ارزښت داسې بیانوي: د "لاجوردو دهلیز" د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو سره نړیوالو ته د لاسرسي له پاره تر ټولو غوره لاره ده. لیکوال وایي په دې نوښت کې هڅه کېږي، چې د ټرانسپورټ زېربناوو او طرزالعملونو ته وده ور کړل سي او صادرات ډېر سي، چې په دې کې سړک، رېل پټلۍ او سمندر ټول شامل دي.

له دې ټرانسپورټي دهلیز څخه د ګټه اخیستونکو هیوادونو وګړو ته به اقتصادي فرصتونه زیات سي.

په متن کې بیا هم ټینګار سوی دئ، چې وایي د دې په رڼا کې "هیڅ دلیل نسته، چې محموله دې له افغانستان څخه د اذربایجان له لارې ولاړه نه سي."

متن زیاتوي، چې د لاجوردو مسیر ګټه خو افغانستان، ترکمنستان او اذربایجان ته ځي، نو وایي د پاکستان او هندوستان د مسیر احتمالي غځېدا به هم مهمې اقتصادي ګټې وړاندې کړي او د هند سمندر ته لاسرسی به وده و کړي.

په وروستیو کرښو کې وایي، چې د «پروژې د بشپړ ظرفیت د درک کولو» له پاره له نړیوالو شریکانو او تمویلوونکو سره نوري مشورې او د پانګونې زیاتوالي ته هم اړتیا سته. د زېربنا او سیمه ایز اتصال په ښه کولو سره دا ټرانزیټي پروژه به د ښکیلو هیوادونو او همدارنګه په هغو سیمو کې، چې دوی کار کوي؛ اقتصادي او سیاسي ثبات لپاره د پرورښت مفهوم افاده کوي.

## Mobile Surveillance Staff Seizes 15 Items of Contraband in 4 Provinces, Nabs Smugglers



Mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs of MoF seized scores of contraband in different areas of Nimroz, Farah, Herat and Nangarhar provinces during last week, which contrabandists planned for bringing confidentially to Afghanistan. Among the seized contrabands are 2,497kg of medication, 3,153kg of tomato paste, 1,632kg of chocolate, 1,102 liters of thinner, 1,250kg of salt, 728kg of macaroni, 436kg of yeast, 669kg of oil, 385kg of agricultural medicine, 420kg of Khama cheese, 500kg of Sachma (used in drugs), 675kg of poultry meal, 180kg of milk powder, 120kg of bean, and 100 cartons of shoes and slippers. The aforementioned contrabands and accused persons have been handed over to the relevant customs for further proceedings.






**د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي**

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



**د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!**

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

**ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!**

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱